**بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسه**

**د علمي چارو معاونیت**

**د پلان او پالیسی کمېټه**

# بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې ته د جذب یا داخلې کړنلاره

لومړۍ ماده: مبنی:

دغه کړنلاره بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې په چوکاټ کې مختلفو پوهنځیو ته د جذب په چارو کې د روڼتیا، اسانتیا او قانونیت په موخه وضع شوې ده.

دویمه ماده: موخې:

د دې کړنلارې د وضع کېدو موخې په لاندې ډول دي:

۱ـ د هېواد د ځوان نسل د وړتیاوو د رشد او غوړولو لپاره د یو مناسب بستر ایجاد:

۲ـ بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې ته د وړ متقاضیانو تثبیت او معرفي کول.

۳ـ له ۱۲ او ۱۴ ټولګیو د فارغانو د فراغت څخه د ډاډ حاصلول.

۴ـ بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې ته د ورود (شمول یا کانکور) ازموینې معیاري کول.

۵ـ د کانکور په ازموینه کې د هر ډول سوء استفادې د امکاناتو له منځه وړل.

درېیمه ماده: پوهنځیو ته جذب:

بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې پوهنځي/ پوهنځیو ته د شمول یواځېنۍ لار د کانکور ازموینه ده چې په کال کې دوه ځلې د هر سمستر له پیل مخکې د لوړو زده کړو وزارت د مخکنې هدایت او اجازې وروسته د ازموینو د ملي ادارې تر مستقیم څار لاندې اخیستل کیږي.

څلورمه ماده: د ۱۲ ټولګیو د داخلې فارغانو د منلو شرایط:

د ۱۲ ټولګي فارغان بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې په چوکاټ کې د خپلې خوښې وړ پوهنځي ته د لاندې شرایطو په تکمیل سره منل کیږي:

۱ـ د تابعیت د معتبرې تذکرې لرل.

۲ـ د پوهنې وزارت په تائید له دولسم ټولګي څخه د فراغت د شهادتنامې یا یې معادل سند لرل.

۳ـ په عین وخت کې په بل کوم دولتي یا خصوصي پوهنتون یا تحصیلي مؤسسه کې نه شمولیت یا محصلتوب.

۴ـ د کانکور ازموینې ته حاضریدل.

۵ـ د کانکور په ازموینه کې د خپلې خوښې وړ پوهنځي ته د ټاکل شویو حد اقل نمرو ترلاسه کول.

۶ـ د ازموینو د ملي اداري له لوري د ترتیب شوي د نوم لیکنې د مخصوص فورم ډکول طی مراحل کول.

۷- د هیواد د نافذو قوانینو، مقرراتو، لوایحو، طرزالعملونو او بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو داخلي پالیسیو او اصولو د رعایت ژمنلیک لاسلیکول.

۸ـ د معالجوي طب او ستوماتولوژی پوهنځیو ته د جذب لپاره د مرکې د پړاو موفقانه ترسره کول؛

پنځمه ماده: د بهرنیو فارغانو د منلو شرایط:

بهرني وګړي هغه وخت کولی شي بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسه کې د خپلې خوښې وړ پوهنځي ته ومنل شي چې د اړوندو نافذو قوانینو د نورو شرایطو تر څنګ لاندې شرایط هم بشپړ شي:

۱ـ د اړوندو مراجعو په تائید د معتبر تعلیمي سند وړاندې کول چې د هغه د ۱۲ ټولګي بشپړیدو یا یې معادل تعلیمي موده تثبیت کړي.

۲ـ د پاسپورت او افغاني معتبرې ویزې لرل.

۳ـ په امنیتي اداراتو کې د ثبت او راجستر تائید وړاندې کول.

۴ـ د افغانستان قوانینو، عنعناتو، فرهنګ او عرف ته درناوی لرل او د ملي امنیت او عامه نظم ضد کړنو او جرایمو څخه ډډه کول.

۵ـ په عین وخت کې بل دولتي یا خصوصي پوهنتون کې نه محصلتوب.

۶ـ د کانکور په ازموینه کې ګډون او د ګډون په صورت کې د اړوند پوهنځي د حد اقل معیاري نمرو ترلاسه کول.

۷ـ د ازموینو د ملي اداري له لوري د ترتیب شوي د نوم لیکنې د مخصوص فورم ډکول طی مراحل کول.

۸ـ د هېواد د نافذو قوانینو، مقرراتو، لوایحو، طرزالعملونو او بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو داخلي پالیسیو او اصولو د رعایت ژمنلیک لاسلیکول.

شپږمه ماده: د څوارلسمو ټولګیو د فارغانو د منلو شرایط:

د لوړو زده کړو وزارت د اړوندو لوایحو په نظر کې نیولو سره د هېواد دننه یا دباندې د غاښونو د پروتیز ځانګې یا نورو مشابهو انستیتیونو د څوارلسمو ټولګیو فارغان د لاندې شرایطو له تکمیل څخه وروسته یواځې د ستوماتولوژی‌پوهنځي په درېیم سمستر کې جذبیدای شي.

۱ـ د تابعیت تذکره لرل.

۲ـ د (۱۳ او ۱۴) ټولګیو څخه د عامې روغتیا وزارت په تائید د فراغت تصدیق وړاندې کول.

۳ـ د (۱۳ او ۱۴) ټولګیو په بهیر کې لږ تر لږه د (۸۰) فیصده نمرو پوره کول.

۴ـ د اختصاصي کانکور ازموینې ته حاضرېدل او د ستوماتولوژي پوهنځي ته د ټاکل شویو حد اقل نمرو ترلاسه کول.

۵ـ د هېواد د نافذو قوانینو، مقرراتو، لوایحو، طرزالعملونو او بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو داخلي پالیسیو او اصولو د رعایت ژمنلیک لاسلیکول.

۶ـ په عین وخت کې بل دولتي یا خصوصي پوهنتون کې نه محصلتوب.

اومه ماده: د کانکور ازموینې وخت:

بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې د کانکور ازموینه په کال کې دوه ځلې دایریږي چې وخت یې د لوړو زده کړو وزارت د هدایت پر اساس تعین او مشخصیږي.

اتمه ماده: نوم لیکنه:

۱ـ بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې د کانکور ازموینې لپاره نوم لیکنه د کانکور د ازموینې له دایرېدو مخکې صورت نیسي. په دې منظور داوطلبان د مؤسسې د معلوماتو څانګې یا د محصلانو آمریت ته مراجعه کوي د مؤسسې د پوهنځیو، درسي وختونو، فیسونو او نورو امکاناتو په اړوند خپل معلومات بشپړوي او په نهایت کې د نوم لیکنې فورم تکمیل او طی مراحل کوي.

۲ـ د معلوماتو شعبه یا هم د محصلانو آمریت نوم لیکونکي محصل ته په هره برخه کې کافي معلومات ورکوي او له هغوی سره قدم په قدم مرسته کوي.

نهمه ماده: د جذبېدونکو محصلینو شمېر:

۱ـ په مؤسسه کې هر پوهنځي ته ځانګړی شمېر او په محدود تعداد کې مراجعین جذبیږي چې شمېر یې د لوړو زده کړو وزارت د اړوندو لوایحو او هدایاتو په نظر کې نیولو سره د مؤسسې د رهبرۍ له خوا ټاکل کیږي.

۲ـ د لوړو زده کړو وزارت د هدایاتو او مصوباتو له مخې په معالجوي طب او ستوماتولوژۍ پوهنځیو کې د جذبېدونکو محصلینو شمېر نوموړي هر پوهنځي ته حد اکثر ۱۲۰ تنه دی. په هغه صورت کې چې د لوړو زده کړو وزارت اړوند لوایح او مصوبات په دې برخه کې تعدیل شي دا شمېر هم تعدیلېدای شي.

لسمه ماده: د معلوماتو ناسمو وړاندې کولو په صورت کې عکس العمل:

په هغه صورت کې کوم داوطلب په دې کړنلاره کې درج شوي شرایط او معلومات په ناسمه توګه مؤسسې ته وړاندې کړي د مؤسسې اداره هر وخت حق لري د هغه د تحصیل حق مانع شي او اعتبار یې لغوه کړي.

یوولسمه ماده: په عین وخت کې دوه پوهنځي لوستل:

د لوړو زده کړو وزارت د طرزالعملونو له مخې په عین وخت کې دوه پوهنځي لوستل په عین یا بله تحصیلي مؤسسه کې جواز نه لري. په هغه صورت کې چې داسې مورد ولیدل شي د لوړو زده کړو وزارت د

نظارت او ارزیابۍ په تشخیص یې د یوې رشتې اعتبار او امتیاز باطلیږي. په داسې حالت کې مؤسسه د شخص د اسنادو او دپلوم مسؤلیت نه لري.

دولسمه ماده: د کانکور د ازمویني پر ورځ غیر حاضري:

هغه شخص چې د کانکور د ازمویني پر ورځ غیر حاضر شي نو په هغه صورت کې چې د متفرقه کانکور ازمویني اجازه د لوړو زده کړو وزارت نه ترلاسه شوې وي کولی شي په هغه کې اشتراک وکړي.

دیارلسمه ماده: د امتحاناتو شمېر:

یو شخص بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې د کانکور په پنځو پرلپسې ازموینو کې د ناکامۍ په صورت کې نه شي کولی د شپږم ځل لپاره د مؤسسې د کانکور په ازموینه کې ګډون وکړي.

څوارلسمه ماده: د کانکور په ازموینه کې د ګډون ممانعت:

هغه شخص چې تحصیلي دوره یې په معین وخت (د څلور کلنو پوهنځیو لپاره شپږ کلونه او د طبي پوهنځیو لپاره د لوړو زده کړو وزارت په تاکنه او د کریډیټونو شمېر په نظر کې نیولو سره) کې بشپړه نه شي کړای یا هم درې ځلې سر په سر په عین سمستر کې ناکام شوی وي یا هم مؤسسې په دسپلیني سرغړونو کې اخراج کړی وي او یا هم په دایمي ډول له پوهنځي څخه منفک شوی وي نه شي کولی عین پوهنځی یا بل پوهنځی له سره پیل کړي او په دې منظور د مؤسسې د کانکور په ازموینه کې مجدد ګډون وکړي، د ګډون په صورت کې مؤسسه د هغه د اسنادو او دپلوم مسؤلیت نه لري.

پنځلسمه ماده: فیسونه:

مؤسسه د نوم لیکنې، په ټوله تحصیلي دوره کې یواځې یو ځل حق الشمول او د تحصیلي خدمتونو د وړاندې کولو په بدل کې حق الاجرات تر عنوان لاندې فیسونه لري چې اندازه او د تادیې ډول یې په جلا کړنلاره کې تنظیمیږي.

شپاړلسمه ماده: تعدیل:

دا کړنلاره د علمي مرستیال یا محصلانو مرستیال په وړاندیز او د علمي شورى د غړو د دوه ثلثو په اکثریت سره تعدیل کېدای شي. تعدیل په دې ماده کې د ذکر شوي نصاب د پوره کولو په صورت کې د مؤسسې

د رییس له لاسلیک او د لوړو زده کړو وزارت د پلان او پالیسۍ ریاست ته له خبر ورکولو وروسته نافذېږي.

ضمیمه: لاندې جدول د مراجعینو د اسانتیا په موخه ددې کړنلارې سره ضم دی.

| گڼه | پوهنځی | د جذب شرایط | موده | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | لیسانس حقوق | ۱ـ د تابعیت د معتبرې تذکرې لرل.<br>۲ـ د پوهنې وزارت په تائید له دولسم(۱۲) ټولګي د فراغت د شهادتنامې لرل.<br>۳ـ په عین وخت کې بل کوم دولتي یا خصوصي پوهنتون یا تحصیلي مؤسسه کې محصل نه وي.<br>۴ـ د کانکور ازموینې ته حاضرېدل.<br>۵ـ د کانکور په ازموینه کې د خپلې خوښې وړ پوهنځي ته د ټاکل شویو نمرو د حد اقل ترلاسه کول.<br>۶ـ د ازموینو د ملي ادارې له لوري د ترتیب شوي د نوم لیکنې د مخصوص فورم ډکول طی مراحل کول.<br>۷- د هېواد د نافذو قوانینو، مقرراتو، لوایحو، طرزالعملونو او بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو داخلي پالیسیو او اصولو د رعایت ژمنلیک لاسلیکول. | څلور کاله<br>(اته سمستره)<br>په کال کې په اوسط ډول دوه سمستره | |
| ۲ | ستوماتولوژۍ پوهنځی | ۱ـ د تابعیت تذکره لرل.<br>۲ـ د پوهنې وزارت په تائید له دولسم(۱۲) ټولګي د فراغت د شهادتنامې لرل.<br>❖ په هغه صورت کې چې داوطلب څوارلسم ټولګي فارغ وي د هغه لپاره:<br>• د صحي انستیتیوتونو د غاښونو د پروتیز یا ورته (مشابه) انستیتوت څخه د ۱۴ په سطحه فارغ وي.<br>• د (۱۳ او ۱۴) ټولګیو څخه د عامې روغتیا وزارت په تائید د فراغت تصدیق وړاندې کول.<br>• د (۱۳ او ۱۴) ټولګیو په بهیر کې د (۸۰) فیصده نمرو پوره کول.<br>• د اختصاصي کانکور ازموینې ته حاضرېدل. | لږ تر لږه پنځه درسي کلونه او یو کال ستاژ<br>(لس درسي سمسترونه او دوه ستاژ سمسترونه)<br>په کال کې په اوسط ډول دوه سمسترونه<br>څوارلسم پاس ته په اوسط څلور کلونه درسي سمسترونه او دوه ستاژ | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | ۳- د هېواد د نافذو قوانینو، مقرراتو، لوایحو، طرزالعملونو او بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو داخلي پالیسیو او اصولو د رعایت ژمنلیک لاسلیکول.<br>۴- په عین وخت کې بل دولتي یا خصوصي پوهنتون کې نه محصلتوب.<br>۵ـ د کانکور ازموینې ته حاضرېدل.<br>۶ـ د کانکور په ازموینه کې د خپلې خوښې وړ پوهنځي ته د ټاکل شویو نمرو د حد اقل ترلاسه کول.<br>۷- د ازموینو د ملي ادارې له لوري د ترتیب شوي د نوم لیکنې د مخصوص فورم ډکول طی مراحل کول. | | |
| ۳ | معالجوي طب پوهنځی | ۱ـ د تابعیت د معتبرې تذکرې لرل.<br>۲ـ د پوهنې وزارت په تائید له دولسم(۱۲) ټولګي د فراغت د شهادتنامې لرل.<br>۳ـ په عین وخت کې بل کوم دولتي یا خصوصي پوهنتون یا تحصیلي مؤسسه کې محصل نه وي.<br>۴ـ د کانکور ازموینې ته حاضرېدل.<br>۵ـ د کانکور په ازموینه کې د خپلې خوښې وړ پوهنځي ته د ټاکل شویو نمرو د حد اقل ترلاسه کول.<br>۶- د ازموینو د ملي ادارې له لوري د ترتیب شوي د نوم لیکنې د مخصوص فورم ډکول طی مراحل کول.<br>۷- د هېواد د نافذو قوانینو، مقرراتو، لوایحو، طرزالعملونو او بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو داخلي پالیسیو او اصولو د رعایت ژمنلیک لاسلیکول. | لږ تر لږه شپږ درسي کلونه او یو کال ستاژ<br>(دولس درسي سمسترونه او دوه ستاژ سمسترونه) | |

دغه کړنلاره بایزید روښان د لوړو زده کړو مؤسسې په ( ۸) علمي شورى کې چې په ( ۱۴۰۱/۷/۲۱) نېټه دایره شوې وه په ( ۱۶) مادو کې تصویب او د اجرا وړ وګرځېده.